international alert

# د سولې د ټینګښت لپاره د نشه يي توکو پالیسۍ ته بیا کتنه

## له افغانستان څخه د پېښې مطالعه

**د انټرنشل الرټ موسسې (International Alert) په اړه لنډ معلومات**

د انټرنشل الرټ موسسې له خلکو سره شخړو ته د سولیز حل لارو په موندلو کې مرسته کوي.
موږ د نړۍ په کچه د سولې د ټینګښت په برخه کې یوه له داسې مخکښو ادارو څخه یو چې ۳۰ کاله تجربه لري او د سولې بنسټ ایښودونکې ده.
موږ د نړۍ په کوټ کوټ کې له محلي خلکو سره د سولې په ټینګښت کې مرسته کوو، او همدا راز حکومتونو، سازمانونو او کمپنیو ته سلا مشوره ورکوو چې له سولې څخه څه ډول ملاتړ وکړي.
زموږ تمرکز پر هغو مسایلو چې په سوله باندې اغیزه لري لکه حکومتدارۍ، اقتصاد، جنډر، د هوا د بدلون او په لوړ خطر لرونکو سیمو کې د سوداګریزو او نړیوالو ادارو د رول په ګډون تمرکز کو.

## مننکلوي

دغه څېړنه د (**Afghanistan Holding Group**) د محترمو کارکوونکو، رابعه نصرت، عبدالله عالمي او عنایت الله نجیمي له خوا ترسره شوې.

د انترنشل الرټ موسسه دآزادې ټولنې بنسټ (**Open Society Foundation**) د نشه یې توکو له نړیوال پروګرام ( **Global Drug Policy Program**) څخه مننداوی دی.

همدا راز، د انترنشل الرټ موسسه له خپلو ستراتیژیکو تمویلوونکو څخه هم مننداوی ده: لکه د برېتانیا د نړیوالې پرمختیا څانګه، د سویډن د نړیوالې پرمختیا د همکارۍ اداره، د هالنډ د بهرنیو چارو وزارت، د ایرلنډ د بهرنیو او سوداګریزو چارو وزارت.

په دې راپور کې څرګند شوي نظریات یوازې د انترنشل الرټ موسسې پورې اړه لري او په هېڅ وجه زموږ د ډونرانو نظریات او پالیسۍ نه منعکسوي.

# د مطالبو نوملړ


منتکلوي ............................................................ 3

مخففات ............................................................ 5

سریزه ............................................................ 6

1.معرفي ............................................................ 8

2.د څېړنې میتودولوژي ............................................................ 8

3.په افغانستان کې د نشه یي توکو پالیسي ............................................................ 9

3.1. معرفي ............................................................ 9

3.2.د نشته یي توکو د تجارت پر وړاندې د حکومت هڅې ............................................................ 10

3.3.د معیشت لپاره د کوکنارو کښت ............................................................ 11

3.4.د کوکنارو د له منځه وړلو قضیه ............................................................ 12

3.5.د کوکنارو په کښت کې فساد ............................................................ 14

3.6.شخړه، سوله او نشه یي توکي ............................................................ 14

3.7.پر نشه یې توکو د روږدو کسانو درملنه ............................................................ 15

4.پایلې او سپارښتنې ............................................................ 17

سپارښتنې ............................................................ 17

**مخففات**

CARD-F: د کرنې د ودې او د کليو د پراختيا پروګرام

**ISAF**: د سولې نړيوال ساتندوی ځواکونه

**KII**: له کارپوهانو سره مرکې

**NDCS**: د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتيژي

**UN**: ملګري ملتونه

**UNODC**: د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو اداره

**سریزه**

د ازادې ټولنې د بنسټ (Open Society Foundation) د نشه یي توکو د نړیوال پروګرام (Global Drug Policy Program) په ملاتړ، چې موخه یې له جرمي روش څخه د نشه یي توکو یوې داسې نړیوالې پالیسی ته د دې ماډل (پرادایم) اړول دي چې په عامه روغتیا، پرمختګ او بشري حقونو کې ریښې لري، د الرټ انترنشنل موسسه (International Alert) یوه څېړنه ترسره کړه چې په درېیو برخو (افغانستان، د کولمبیا او پیرو ترمنځ پوله، او نایجیریا) کې د شخړې، نشه یي توکو، جرمونو او تاوتریخوالي ترمنځ تړاو راوسپړي. په هر هېواد کې د سیاسي تحرک پر اساس، د دې څېړنې هدف د هغه رول روښانول دي چې د نشه یي توکو تولید او قاچاق یې د دغو درېو واړو هېوادونو په سیاسي اقتصاد کې لوبوي او په دې پوهېدلو ته لاره هواروي چې ایا د سولې د ټینګښت روش یا طریقه د خبرو اترو لپاره نویو لارو چارو او مفکورو ته زمینه برابرولای شي.

دغې څېړنې په نوموړو هېوادونو کې د نشه یي توکو د قاچاق بېلابېل اصطلاحات او مفاهیم راسپړلي دي او دا خبره یې روښانه کړې چې دغه څلور هېوادونه په سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي ناخوالو کې ګډون ورته والی سره لري چې په مختلفو کچو د نشه يي توکو په قاچاق پورې تړاو لري، له یوې خوا په دې برخه کې چې کوم لاملونه د نشه یي توکو تولید له سوداګرۍ سره تړي او له بلې خوا څنګه پر افرادو، حکومتدارۍ او امنیت اغېز پرېباسي.

د اقتصادي فرصتونو له پلوه د نشه یي توکو د تولیدونکو او ټرانزیټ کوونکو هېوادونو ترمنځ یو مهم امتیاز رابنکل کېدای شي. د نشه یي توکو په تولیدونکي هېواد لکه افغانستان کې، د ټولنو معیشت په پرله پسې توګه تر ډېره بریده په ناقانونه حاصلاتو متکي دی، کوم چې د محلي، ملي او نړیوالو قاچاقبرانو د د یوه نسبتاً لوی زنځیر برخه دي چې له دوی څخه ډېری یې په ناقانونه یا جنایتکارو وسله والو ډلو پورې تړاو لري. نوموړې څېړنه ښیي چې دغه سوداګري د دې لپاره نه ترسره کېږي چې تاوتریخوالی رامنځته شي، مګر په هغه صورت کې چې دغه سوداګري له خطر سره مخامخ شوې نه وي، څکه له یوې خوا تاوتریخوالی د دې سوداګرۍ لپاره ګټور او مرستندویه نه دی او له بلې خوا د خلکو توجه راجلبوي او د سوداګرۍ د ادامه ترسره کېدلو او بهیر مخنیوی کوي. په حقیقت کې دغه څېړنه جوتوي چې ټولنې حتی د نشه یي توکو له قاچاقبرانو سره د سولې د ټینګښت لپاره پر راکړه ورکړه هم هوکړه کوي او د دې لپاره هم چې تاوتریخوالی کوم بل ځای ته وکوچیږي. دا په دې معنی نه ده چې نشه یي توکي او تاوتریخوالی سره په خپلو کې اړیکه نه لري، بلکې د دوی ترمنځ اړیکه له هغه څه نه، چې یو څوک یې په اړه فکر کولای شي، ډېر توپیر لري. په حقیقت کې د نشه یي توکو سوداګري د ډېرو ډلو (نادولتي وسله والې یا داړه مارې ډلې) لپاره اقتصادي ګټې برابروي، له یوې خوا د دې لپاره چې دوی پخپله پاینښت ومومي او له بلې خوا په دې خاطر چې د دولت د قلمرو په یو څه برخو خپل کنټرول او ځواک جاري وساتي. همدا وجه ده چې دوی نه یوازې د حکومت له خوا د امنیت د برابرولو پروسه اغېزمنوي او د تاوتریخجنو شخړو خطر زیاتوي، بلکې د قانون د نافذېدو مخه هم نیسي.

پر دې سربېره، د نشه یي توکو د قاچاق د تداوم له فکتورنو یو عمده فکتور فساد دی او د دې کار د غوړېدا لامل شوی. په افغانستان کې ناروا ګټې په مرکزي او سیمه ییزه کچه د فساد د پیاوړتیا وسیله ګرځېدلې دي او په انتخاباتي سیستمونو کې یې نفوذ کړی چې د دولت پر اجراآتو، شفافیت او حسابدهۍ یې اندېښمنوونکی اغېز کړی او دا هغه څه دي چې بالاخره په محلي او ملي کچه د ټولنیزو کشمکشونو او شخړو سبب کېدای شي. د نایجیریا او پیرو-کولمبیا د دوو قضیو د مصالعاتو په څېر، افغانستان هم د قانون د تنفیذ د اقداماتو په برخه کې یوه غیر اغېزناکه مخینه یا سابقه لري چې د نشه یي توکو د سوداګرۍ تر شا د بډایه او با نفوذه خلکو پر وړاندې اقدامات نه شي کولای. څکه دغه افراد دومره ځواک لري چې ځانونه د حکومت له منګولو وساتي او په غیر متناسب ډول دوی پر بزګرانو، دلالانو او معتادینو باندې تمرکز کوي. دې کار له یوې خوا د هغو ډلو په څنډې ته کولو کې مرسته کړې چې له پخوا راهیسې اسیب پذیرې وې او له بلې خوا یې په نشه یې توکو کې د ښکېلو شبکو په ژوندي او سالم پاتې کېدو او همد راز د دې سوداګرۍ په وده کې هم ګټور رول لوبولی.

د دې څېړنې موندنې هغو حل لارو ته لاربنوونه کوي چې د ټولنې له خوا په محلي کچه خپلې شوې دي، همدا راز هغو هر اړخیزو کړنلارو ته هم خلک رهنمایي کوي چې په بشپړه توګه هغه اړیکې ترې پېژندل کېدای چې د حکومت د کمزورو اجراآتو، فساد او د نشه یي توکو د قاچاق او د هغه اغېز ترمنځ، چې شته پالیسی یې په تر ټولو زیاتو اسیب پذیرو خلکو لري. په دې برخه کې ضروري خبره دا ده چې ټول ملي او نړیوال

لوبغاړي دغې موضوع ته په خپلو سیاسي اجنډاوو کې ځای ورکړي ترڅو هغه بالقوه عوامل اعظمي حد ته ورسيږي او د نشه يي توکو اصلاحات وکړای شي په دغو دریېو او له دې په ور هاخوا سیمو کې تلپاتې سوله ټينګه کړي.

## 1. معرفي

د نشه يي توکو د تاوتريخوالي له بېلابېلو بڼو او ډولونو ورها خوا، په حکومتدارۍ او د هغې په کمزورتيا کې د نشه يي توکو د قاچاق تر ټولو زياتو زيان رسوونکو اغېزو د پاليسي جوړوونکو او څېړونکو توجه ځانته را اړولې ده ترڅو داسې حل لارې وموندل شي چې په سيمه ييزه او نړيواله کچه تلپاتې سوله او ثبات رامنځته شي. په نړيواله کچه پاليسي جوړوونکي په دې باور دي چې ډېرې ستراتيژيکې او همغږې هڅې په کار دي چې د قانون د تنفيذ نوښتونه بشپړ او پراخ شي ترڅو په جامع ډول د سازمان شويو جرمونو او شخړو او کاواکه وضعيت ترمنځ اړيکه کنټرول شي. بېلابېلې شننې د کاواکه دولتونو ځانګړنې په ګوته کوي او دغه ځانګړنې هغه څه دي چې له امله يې نوموړي دولتونه د سازمان شويو ډلو اغېز، نفوذ او سوء استفادې ته مجبورېږي. د بې کارۍ لوړه کچه، نابرابري، غير اغېزناک خدمتونه وړاندې کول، د بشري حقونو نقض، کمزوري امنيتي ځواکونه، فساد او ټولنيز اختلافات هغه ځانګړنې دي چې دولتونه يې د ناقانونه وسله والو ډلو اغېز ته اړ ايستلي دي.

تر دې دمه د نشه يي توکو، جرمونو او تاوتريخوالي ترمنځ د اړيکې پر وړاندې له يوې خوا سخت امنيتي ځواب ورکول کېږي، په داسې حال کې چې له بله پلوه د ټولنې له خوا دغه ځواب ډېر ناچيز او کمزورى وي. له داسې هڅو سره سره، د نشه يې توکو قاچاق داسې تنظيم شوى چې لا هم ژوندى پاتې شي او جريان ومومي، لکه د امريکا د متحدو ايالتونو د انډين په نامه د بحث فورم په نظر دا د ((دولت او سازمان شويو ډلو ترمنځ يوه مخ پر وده همزيستي يا ګډ ژوند دى چې ناامني رامنځته کوي او ديموکراتيک بنسټونه کمزوري کوي.)) او دا هغه څه دي چې په سيمه کې د شخړو ساختاري لاملونه او وروسته پاتې والى، لکه کمزورې حکومتداري او د دولت کمزورى حضور، تغذيه کوي. دغه تحليل يوازې په کولمبيا او انډين سيمو پورې منحصر نه دى، بلکې په هغو سيمو پورې هم تړاو لري لکه افغانستان چې له کولمبيا او انډين سيمو سره په مساوي ډول د نشه توکه له قاچاق څخه اغېزمن دى او تر دې لږ لکه نايجيريا. د نشه يي توکو قاچاقبرو جنايتکارو شبکو په سياسي بنسټونو او حکومتي جوړښتونو کې نفوذ کړى چې له امله يې دغه ستونزه لا هم په خپل ځاى پاتې ده او د اړوندو هېوادونو او سيمو سوله او ثبات يې له جدي ګواښونو سره مخ کړي دي.

په بنسټيزه توګه، په اغېزمنو سيمو کې د ټولنې له خوا مخالفتونه راپورته شوي دي، خو د دوى اندېښنه هغه مستقيمي اغېزې څنډې ته کول دي چې دوى ورسره دا مهال لاس او ګرېوان دي دي يا غواړي چې له خطر سره د مخامخ ډلو لپاره څه ناڅه بديل معيشت برابر کړي. دوى ډېر ځله له داسې اساسي او د بدلون وړ اهدافو سره تړاو نه لري چې د اوږدمهالې سولې او ثبات د ملاتړ لپاره ډيزاين شوي وي. د دې ستونزو د له منځه وړلو لپاره په ۲۰۱۴ زېږديز کال کې د الرټ نړيواله موسسې تر ((جرم او شخړه: د سولې پر وړاندې نوې ننګونه) سليک لاندې د پاليسۍ يو ستر راپور خپور کړ. په دې راپور کې د محلي او لويو مخالفتونو يا مداخلو ترمنځ د تقاطع پر وړاندې د چلند لپاره نوې کړنلارې وړانديز شوې وې. دغه تحليل، چې د تاوتريخوالي او ناقانونه اقتصاد (ناقانونه اقتصادي فعاليتونه، لکه تور کار) په برخه کې پر سياسي اقتصاد د انټرنشنل الرټ موسسې د کار اوږده مخينه يا سابقه ترسيموي، د يوې داسې کړنلارې سپارښتنه کوي چې پر اساس يې د شخړو تحليل، ډيالوګ، مدني فعاليت او پياوړتيا (توامندسازي) د نشه يي توکو د سازمان شوې سوداګرۍ پر وړاندې د بدلون وړ پاليسۍ په سر کې ځاى لري.

## 2. د څېړنې ميتودولوژي

دغه څېړنه په خپل ذات کې کمي (څومره والى) وه او له کارپوهانو سره د مرکو له لارې شواهد په کې راټول شوي دي. په دې څېړنه کې يو لړ بېلابېل ونډه وال هدف شوي وو چې د نژادي ډلو او عامو افرادو په ګډون په کې سيمه ييزو مسؤلينو، ملي چارواکو او د مدني ټولنې فعالانو برخه اخيستې وه. څېړونکو د افغانستان په کابل او هلمند ولايتونو کې ۲۳ مرکې ترسره کړې دي.

د دې څېړنې حساسيت ته په پام سره، زموږ د څېړنې طريقه بايد د څېړنې د اړتياوو او د څېړونکو د خونديتوب ترمنځ انډول وساتي. دا د دې غوښتنه کوي چې د دې څېړنې د پايلو په تفسير او تعبير کې له احتياط څخه کار واخيستل شي. د هغو معلوماتو، چې دلته وړاندې کېږي، عينيت يا واقعيت هرومرو د ايډيټرانو د تعبيرونو له مخې څه ناڅه توپير لري او فلتر شوى. دوى محتاطانه هڅه کړې چې د څرګندونو او ويناوو په برخه کې نه يوازې مبالغه بايد ونه شي، بلکې له بې موجبه عمومي کولو يې هم بايد ډډه وشي. ځکه نو په دې څېړنه کې موندنې د شته معلوماتو او د څېړنې د لوړو اخلاقو پر اساس تر ټولو غوره اټکل (تقريبي تقدير يا تخمين) دى.

3. په افغانستان کې د نشه يي توکو پاليسي

### 3.1. معرفي

د اپينو توليد د افغانستان په کليوالي معيشت کې د ټاکلو جغرافيوي سيمو او ټولنيزو- اقتصادي ډلو لپاره له ځانګړو پايلو سره ډېر مهم او څوکاره (multifunctional) رول لوبوي.

سره له ځينو استثناوو، په افغانستان کې له ۲۰۰۰ مې لسيزې راهيسې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ناوړه تسلسل او د کمزورو پاليسيو په پراختيا، د بغاوتونو په وړاندې پر مبارزې، ثبات او د قانون د تنفيذ پر هڅو معکوسې او اوږده اغېزې لرلې دي. د اکثرو دغو هڅو موخه د کوکنارو او د هغو د قاچاق پر وړاندې مبارزه وه چې بالاخره له منځه یووړل شي او مخنيوی يې وشي، په داسې حال کې چې د بزګرانو لپاره د بديل معيشت اسانتياوې برابرې شوې دي. دغو هڅو د کليوالو لپاره ناوړه پايلې لرلې دي، په ځانګړې توګه په هغو سيمو کې چېرې چې د بديلو اقتصادي فرصتونو لپاره د دولت له خوا کوم ملاتړ هم نه و موجود. په ځينو مواردو کې پروګرامونه بالاخره د نشه يي توکو د توليد لپاره د اضافي امتيازاتو په برابرولو تمام شوي دي او په مارکيټ کې يې د نرخونو د لوړولو او همدا راز د طالبانو د بسيج لپاره لاره هواره کړې ده.

نړيوال لوبغاړي د تېرو کلونو په اوږدو کې په دې نه دي بريالي شوي چې دغه مسئله د پراختيا، امنيت او د حکومتدارۍ د پروسو د يوې برخې او پايلې په توګه وپېژني. تر ۲۰۰۳ زېږديز کال پورې، په افغانستان کې د نشه يي توکو پر وړاندې د امريکا د متحده ايالتونو پاليسي عدم مداخله (د کوکنارو کښت ازاد پرېښودل) وه، ځکه د امريکا د متحدو ايالتونو پوځ په دې باور و چې که دوی د کوکنارو د له منځه وړلو هڅه وکړي، نو د طالبانو او القاعدې په اړه د استخباراتي معلوماتو په لاسته راوړلو کې به بريالي نه شي. په افغانستان کې د نړيوالو همکاريو د ماموريت لپاره تر ((د ملتونو لاربښوونه)) مفکورې لاندې، چې يو ځانګړی هېواد په يو ځانګړي سکتور کې د بيارغونې مسؤليت پر غاړه لري، برېتانيا ته په ۲۰۰۲ زېږديز کال کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې دنده وسپارل شوه.

له سياسي ستونزو سره پر ټرلو ټولو حساسيتونو سربېره، د کليوالي خلکو معيشت له منځه وړلو ته په پام سره برېتانيا په لومړي سر کې د کاکنارو د له منځه وړلو د جبران پروګرام پيل کړ. که څه هم د دې پروګرام له پيله د فساد او اخلاقي خطر په کډون دغې پاليسۍ ګڼې ستونزې لرلې، خو له يو کال په کمه موده کې دغه پروګرام شنډ او لغوه شو. په ۲۰۰۴ زېږديز کال کې، د نشه يي توکو د مخنيوي هڅې په دې موخه زياتې شوې چې د نشه يي توکو قاچاقبران او د پروسس لابراتوارونه به په نښه کېږي. د افغان زورواکانو له خوا د دغو هڅو مخه د دې لپاره ونيول شوه چې د نشه يي توکو، نژادي او قبيلوي سيالۍ او همدا راز نورې سياسي سيالۍ له منځه يوسي. د نشه يي توکو د اقتصاد د واکمنانو يا چلوونکو د په نښه کولو پر ځای، چې اکثرو يې د پام وړ سياسي نفوذ درلود، د نشه يي توکو د مخنيوي اکثره عمليات د هغو اسيب پذيرو سوداګرو پر وړاندې پيل شول چې نه يې رشوت ورکولای شو او نه يې هم د نشه يي توکو د مخنيوي ټيمونو او د هغوی سوپروايزرانو ته د افغانستان د حکومت په دننه کې کوم خطر او ډار متوجه کولای شو. د دې پايله په هېواد کې د نشه يي توکو د کارخانو د پام وړ عمودي ادغام شو.

د نشه يي توکو د مخنيوي يو بل ناغوښتی (نامطلوب) اغېز، چې د نشه يي توکو د مخنيوي پروسه څنګه ترسره شوه، دا و چې طالبانو د افغان نشه يي توکو له سوداګرۍ سره ځانونه يو ځل بيا يوځای کړل. په پاکستان د خپلو ليکو له تنظيم وروسته، طالبانو يو ځل بيا ضروري وګڼله چې له هغو قاچاقبرانو څخه ساتنه وکړي چې د نشه يي توکو د مخنيوي د پروسې هدف وو. د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ زېږديزو کلونو ترمنځ، د نشه يي توکو د له منځه وړنې يوه فزيکي پاليسي د امريکا د متحدو ايالتونو د يوه خصوصي پوځي قراردادي کمپنۍ له خوا چې د ډاين کورپ (DynCorp) [1] مؤسسې له خوا روزل شوي وو، پر غاړه واخيستل شوه چې سيمه ييزو واليانو او د هغوی ځواکونو هم په کې برخه لرله. که څه هم د بديل معيشت پروګرامونو د ډېرو بزګرانو لپاره تحقق ونه موند، چې له امله يې دوی يا له طالبانو سره يو ځای شول او يا يې هم له هغوی څخه د ملاتړ غوښتنه وکړه. پر دې سربېره، هغه بزګران، چې پاکستان ته د کډوالو په توګه کوچېدلي وو، د طالبانو له ليکو سره يو ځای شول.

[1] د متحده ايالتونو يو خصوصي پوځي قراردادي

د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۳ کلونو ترمنځ د نشه يي توکو پر وړاندې د ننګرهار ولايت د ولسوالانو هڅې له دې امله وستايل شوې چې د کوکنارو کښت يې له منځه يووړ او دغه ولايت يې هر کال د کوکنارو څخه پاک وساته. په داسې حال کې چې دغه بريا يوازې د ولايت مرکز ته په نږدې سيمو پورې، چيرې چې د بديل معيشت فرصتونه برابر شوي وو، محدوده پاتې شوه، خو د ولايت له مرکز نه لرې پرتې ولسوالۍ له سختو اقتصادي محروميتونو څخه وکړېدلې او ډېرې بې ثباته شوې. [2]

د نشه يي توکو د له منځه وړنې معکوسو او ضد اغېزو ته په پام سره، د ولسمشر اوباما اداري د نشه يي توکو د له منځه وړنې په پروګرامونو، چې د مرکز له خوا رهنمايي کېدل، په ۲۰۰۹ زېږديز کال کې پيسې بندې کړې. وروسته بيا د نشه يي توکو د مخنيوي لومړنۍ پاليسي دا وه چې له طالبانو سره د نشه يي توکو پر تړلو قاچاقبرانو تمرکز وشي. خو دا پاليسي هم ډېره برياله ثابته نه شوه او د دې ستراتيژۍ ډېره عملياتي برخه په يو ناسم لوري رهنمايي شوه. [3] د نشه يي توکو پر مخنيوي تمرکز نه يوازې د افغانستان په جنوبي ولايتونو کې له طالبانو سره تړلو قاچاقبرانو ته ستونزې پيدا کړې، بلکې دې کار د هغو کورنيو پر اقتصادي هوساينې هم اغېز پرېباسه چې د نشه يي توکو د مخنيوي په پروسه او چاپو کې په نښه شوې وې. پر ثبات او د بغاوتونو پر وړاندې د کمپاين معکوسې پايلې د نشه يي توکو د له منځه وړنې له معکوسو اغېزو سره ورته وې: لکه له پورتنيو پاليسيو څخه اغېزمن خلک له حکومت او ايساف څخه زړه توري شول او له طالبانو سره د بسيج کېدو لپاره يې چمتو والی وښود. په ورته وخت کې، د اپينو او کوکنارو اقتصاد په مکرر ډول هغو سيمو ته ولېږدېد چېرې چې د ايساف او حکومت اړوندو ځواکونو کله نا کله ګزمه کوله.

د بديل معيشت د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له خوا د اقتصادي پرمختګ هڅې د اقتصادي پرمختيايي پروژو د هدف د دوو رقابتونو د مفاهيمو ترمنځ د يوه تذبذب له خوا وځپلې شوې: د دوامداره اوږدمهاله پرمختګ په بدل کې د خلکو اخيستل او له مخالفينو څخه يې راجلا کول. دغو پروګرامونو په افغانستان کې د کوکنارو د کښت د چلوونکو په ګډون، د کليوالي اقتصاد ساختاري نيمګړتياوو ته ځواب ونه شو ويلی. پر دې سربېره، د ا فغانستان د سياسي، اقتصادي او قراردادي صحنو د پېچلتيا او ابهام له امله، د دغو نړيوالو ډېری پروګرامونه د جنجالي، متعصبو او مفسدو زورکانو لاسونو ته ولوېدل چې د خلکو د لا زياتې کړکې او خپګان سبب شول او په افغانستان کې د فساد د زياتوالي او د حساب ورکونې د نشتوالي لامل وګرځېدل. د دې ترڅنګ دغو حالاتو نويو قبيلوي سياليو او د ټولنې کشمکشونو ته لمن ووهله. په افغانستان کې د نشه يي توکو د تقاضا د کمولو پاليسی هم د يو نا مناسب او کم توانه روغتيايي سيستم په پايله کې ناکامه پاتې شوې دي.

د دې څېړکي موضوع دا ده چې د سولې د ټينګښت ليدلوری عملي شي ترڅو د نشه يي توکو د کښت او قاچاق مسئلې ته د ځواب ويلو ملاتړ پيدا شي او دا هغه څه دي چې له يوې خوا د هېواد د شخړو د له منځه وړلو لپاره مهم دي او له بلې خوا د هېواد د ټولنيزو او اقتصادي محرکاتو لپاره حياتي ارزښت لري.

### 3.2 د نشته يي توکو د تجارت پر وړاندې د حکومت هڅې

د نړيوالې ټولنې په ملاتړ، د افغانستان د کورنيو چارو وزارت د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پوليس رامنځته کړل چې تمرکز يې د نشه يي توکو په اړه پلټنې، استخباراتي معلومات راټولول او مخنيوی و.

د افغانستان د نشه يي توکو پر وړاندې د اقداماتو خپل پلان (۲۰۱۵-۲۰۱۹) درې مهمې ساحې خپل هدف ګرځولي دي: [4]
۱- د کوکنارو د کښت کمول چې دا کار به له يوې خوا د بزګرانو، کارګرانو او کليوالو ټولنو لپاره د کوکنارو د بديل معيشت د ګټو او پياوړو پروګرامو له لارې کېږي او له بلې خوا به تر يوې داسې کچې پورې د کوکنارو د له منځه وړلو د اهدافو د زياتولو له لارې کېږي چې که چيرې د قانون د تنفيذ له هڅو سره يو ځای شي، نو دا به په راتلونکي کې د کوکنارو د کښت مخه هم ونيسي.

---

[2] وي. فيلباب- بروان، په افغانستان کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پاليسي: يوه ښه ستراتيژي کمزورې تطبيق شوې. افغانستان ته د لنډ سفر راپور، VI, Brookings د ۲۰۱۲ کال د مې ۱۰،
https://www.brookings.edu/opinions/afghanistan-trip-report-vi-counternarcotics-policy-in-afghanistan-a-good-strategy-poorly-implemented/

[3] تېر مأخذ

[4] د افغانستان د اسلامي جمهوريت د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت، د نشه يي توکو پر وړاندې د اقداماتو افغان ملي پلان ۲۰۱۵- ۲۰۱۹، کابل: د افغانستان جمهوريت،
http://polis.osce.org/library/f/4838/4326/GOV-AFG-RPT-4838-EN-4326.pdf

۲- د اپینو د تولید او قاچاق کمښت چې د دې لپاره د حکومت په ظرفیت کې سمون ډېر اړین دی ترڅو وکړای شي د نشه يي توکو تولید له منځه یوسي او د هغو ادارو مخه ونیسي چې د نشه يي توکو په قاچاق کې لاس لري. پر دې سربېره به حکومت وتوانیږي چې د تورو پیسو د د تطهير يا سپينولو قوانين نافذ کړي، د نشه يي توکو د اړوندو وسايلو او عوايدو په ضبط او مصادره کې زیاتوالی راولي او د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه کې په ملي او نړیواله کچه همغږي رامنځته کړي، په ځانګړې توګه د قانون د تنفيذ او د جنايي عدالت په برخو کې.
۳- په افغانستان کې د نشه يي توکو تقاضا کمول او د معتادينو د درملنې لپاره اسانتياوې زیاتول چې د دې کار لپاره باید د هېواد په کچه دايمي روغتيايي مرکزونو ته لاسرسی زیات شي. د دې کار لپاره له یوې خوا په یو لړ ادارو لکه ښوونځيو، جوماتونو، کار ځايونو او رسنيو کې د نشه يي توکو د مخنيوي پروګرامونه او له بلې خوا مفاهموي کمپاينونه زیاتول په کار دي ترڅو له دې لارې نه یوازې د نشه يي توکو استعمال کم شي، بلکې خلکو ته د کوکنارو د کرکيلې د ناوړه پايلو په اړه هم خبرداری ورکړل شي.

### 3.3 د معیشت لپاره د کوکنارو کښت

زموږ څېړنه او پخواني راپورونه دواړه ښيي چې د دولت له امله د کوکنارو کښت نه دی رامنځته شوی، بلکې د کوکنارو کښت د دولت د ناکامۍ له لاملونو څخه یو مرستندویه یا ممد لامل دی. [5] دا د حیرانتیا خبره نه ده، زموږ څېړنه ښيي چې د کوکنارو د کښت تر شا عمده دلايل اقتصادي هغه دي. د تېرو کلونو په اوږدو کې، د نړیوالې ټولنې له خوا یوه ستراتیژي دا وه چې د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره باید د بدیل معیشت له ستراتیژۍ څخه کار واخیستل شي. په تېرو کلونو کې په دې اړوند یو لړ نوښتونه مطرح شول چې د بېلابېلو کچو بریا یې له ځان سره لرله.
د دې نوښتونو یوه بېلګه د کرنې د ودې او د کليو د پراختيا پروګرام (CARD-F) ده. دا د کرنې او د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارتونو تر ملاتړ لاندې یوه ګډه اداره ده چې په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې رامنځته شوه. د دې ادارې موخه خلکو ته کارونه، عايداتي او سوداګريز فرصتونه پیدا کول دي چې په لومړي سر کې یې هدف د کليوالي خلکو لپاره د ډېزاين، اسانچاری او له تجارتي پلوه د پایښت لرونکو قابليتونو د تطبیق له لارې د هغو کليوالي زيربنايي پروژو بشپړول و چې د افغانستان په هدف شویو ولایتونو کې په پام کې نيول شوې وې. اساسي موخه دا ده چې د بدیل معیشت د فرصتونو او د کوکنارو د کرکيلې د کمولو له لارې د کليوالي ټولنو لپاره د مشروع کاروبار په رامنځته کولو او جاري ساتلو کې ملاتړ وشي او د هغوی لپاره د اړتيا له مخې خدمتونه وړاندې شي. [6] د دې نوښت د یوې برخې په توګه، د کوکنارو له کښت څخه پاکو ولایتونو ته د ((غوره کارنامې نوښت)) تر نامه لاندې یو میلیون ډالر مرسته ورکول کېږي. [7] په دې مالي مرستې سره والي يا ولسوال کولای شي د یوې پرمختيايي يا کرنيزې پروژې د تطبيق وړاندیز وکړي. [8] د کاري همکارانو وړاندیز دا دی چې د CARD-F اداره د مېوو او سبزيجاتو (بادرنګ، رومیان، انګور، زعفران او پنبه) [9] د کښت په وده کې ډېره بریالۍ ثابته شوې ده. د بېلګې په توګه، په هرات ولایت کې د زعفرانو کښت د پام وړ کامیابه پايلې لرلې دي او دغه ولایت دا مهال له کوکنارو څخه پاک شوی دی. په ختیځو ولایتونو، ننګرهار او کونړ، کې د ګلانو کښت مثبته نتیجه ورکړې ده. دې ته ورته په شمالي ولایتونو کې، د ابیاری پروژو د بدیلو غلو دانو تولیدات زیات کړي دي.

د کوکنارو د ٪۲۰ کښت د کمولو له بالقوه وړتیا سره سره، ځینو پالیسیو قسمي (جزئي) لاسته راوړنې لرلې او دا ځکه چې د کوکنارو په پرتله د بدیل معیشت د انتخابونو له لارې لږې پیسې لاسته راتللې. [10] کوکنار په کال کې درې ځله کرل کېدای شي، بدیل یې لکه غنم په کال کې یول ځل کرل کېږي. [11] د خاورې او اقلیم د بېلابېلو شرایطو له امله، ورته بدیل په ټولو سیمو او ولایتو کې نه شي تطبيقېدای، د بېلګې په توګه، د کندز په پرتله په ننګرهار کې نعناع ښه وده کوي او د بزګرانو لپاره يې ښه پايله لرلې ده. پر دې سربېره، د بديل معيشت ځينې ډولونه په اوږد مهال کې کار کوي او حاصل ورکوي، خو هغه بيا ډېر استقامت او مواظبت ته اړتيا لري. [12] دا ډول علې دانې بزګرانو ته په زړه پورې نه دي او ثابته شوې ده چې دا ډېر کمزوری بدیل دی. نو ځکه باید د محصول له تعویض سره د معادل بدیل معیشت نه ډډه وشي. [13]

---

[5] -ډبليو. ای. بيرډ او ډي. مانزفيلډ، د درملو د استعمال لپاره افغان اپينو ته ليسنس: ولې دا کار نه کوي، د سولې خلاصه ۱۷۹، د متحده ايالتونو د سولې انسټيټيوټ، د ۲۰۱۴ کال سپټمبر مياشت، http://www.usip.org/publications/licensing-afghan-opium-medicinal-use/

[6] د CARD-F معرفي، /http://www.cardf.gov.af، د ۲۰۱۶ په جون مياشت کې ورته لاسرسی شو و.

[7] د ښې کارنامې نوښت، د نړيوالو نشه يي توکو او د قانون د تنفيذ د چارو تمويل شوی پروګرام دی چې په افغانستان کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) له خوا تطبيق شوی و. دغه پروګرام، چې په ۲۰۰۷ زېږديز کال کې د ولسمشر د ۹۹ نمبر فرمان په اساس پيل شوی و، د نشه يي توکو پر وړاندې د واليانو مبارزه هڅوي او د نشه يي توکو د کمولو فعاليتونه برابروي او په هغو ولايتو کې چې د کوکنارو کښت يې کم يا بيخي له منځه وړی، د ټولنې له خوا د دوامداره پرمختيايي پروژو ملاتړ کوي. د ښې کارنامې نوښت وکورئ، د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوريت، http://mcn.gov.af/en/page/5138/6260، د ۲۰۱۶ کال په جون مياشت کې ورته لاسرسی شوی و.

[8] د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې له يوه رئيس سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[9] د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[10] د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د ادارې له استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[11] د ټولنې له يوه مشر او بزګر سره مرکه، هلمند، ۲۰۱۶

[12] د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[13] د کرنې وزارت له يوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

پر دې سربېره، هغه بودجه چې تر دې مهاله د بدیل معیشت لپاره ځانګړې شوې، ډېره لږه او ناچیزه ده. د ځینو اټکلونو له مخې، د نشه يي توکو کلني عایدات ۷۰ بیلیون ډالر اټکل شوي دي.[14]په داسې حال کې چې په تېرو کلونو کې له دې جملې څخه یوازې ۸ بیلیونه ډالر په بدیل معیشت پروګرام لګېدلي دي او له دې څخه ډېرى پیسې بزګرانو ته هم نه دي رسېدلې.[15]په ننګرهار او هلمند ولایتونو کې د ښړنیو اقداماتو په توګه، بزګرانو ته په دې شرط نغدې پیسې ورکړل شوې چې هغوى به د دې په بدل کې د کوکنارو له کښت څخه لاس په سر کېږي. خو دې کار د فساد لپاره زمینه برابره کړه، ځکه سروې کوونکو ته رشوتونه ورکړل شول او د جنګ سالارانو له خوا دې ته اړ اېستل شول چې د هغوى ځمکې له اصلي مساحت نه درې یا څلور برابره زیاتې وښیي.

### 3.4. د کوکنارو د له منځه وړلو قضیه

په افغانستان کې دوه کټګورۍ بزګران د کوکنارو په کرکیله کې ښکېل دي. په لومړۍ کټګورۍ کې هغه بزګران شامل دي چې لږې ځمکې لري او یا هېڅ ځمکې نه لري؛ په دې کټګورۍ کې هغه بزګران هم شامل دي چې ځمکه اجاره کوي او یا د خپلو د کورنیو د لومړنیو اړتیاوو لپاره په مزدورۍ کار کوي. پر دې سربېره، په دوى کې متوسط ځمکه لرونکي بزګران هم حساب دي چې حلال او حرام دواړه کښتونه کړي.[16]د بېلګې په ډول، په هلمند ولایت کې غنم، پنبه، غلې دانې، سبزیجات، شړشم او ریحان ګلونه حلال فصلونه دي چې هند ته صادرېږي.[17] دغه بزګران دواړه ډوله کښتونه کړي، دوى د ډېرو عایداتو لپاره حرام کښتونه کړي او دا هغه څه دي چې له دوى سره د دوى د لومړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته کوي. د حرامو یا حلالو کښتونو کرل د ځمکې په ډول یا نوعیت پورې هم اړه لري. کوکنار ډېر حساس دي، له همدې امله باید په حاصل ښېزه ځمکه وکرل شي، په داسې حال کې چې حلال کښتونه په کم کیفیته ځمکه هم کرل کېداى شي.
د طالبانو د واکمنۍ پر مهال له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۲ زېږدیز کال پورې، د اپینو په تولیداتو بندیز ولګېد او دا یې یو غیر اسلامي کښت وباله. په داسې حال کې چې دا مهال طالبانو د کوکنارو پر وړاندې نسبتاً نرمه پالیسي غوره کړې او بزګرانو ته یې د زکات یا عشر د لاسته راوړلو لپاره اجازه ورکړې او استدلال یې دا دى چې اپین د افغانانو له خوا نه، بلکې یوازې د بهرنیانو له خوا کارول کېږي.[18]

دویمه کټګوري هغه بزګران دي چې پراخه ځمکې تر خپل کنټرول لاندې لري او د ګټې وټې په موخه په کې کوکنار کري. په هلمند کې نږدې ٪۷۰ ځمکه، چې د کوکنارو د کښت لپاره کارول کېږي، غصب شوې هغه ده.[19] دا اصلاً حکومتي ځمکه ده، خو د نشه يي توکو د ځایي مافیا له خوا، چې له نړیوالو شبکو او طالبانو سره اړیکي لري، ترې ناوړه ګټه پورته کېږي. د طالبانو د ملاتړ او د هغوى تر کنټرول لاندې سیمو کې د فعالیت په بدل کې د نشه يي توکو مافیا طالبانو ته پر ګاډو سربېره مالي سرچینې هم برابروي.[20]

دا خبره لا له وړاندې راپورته شوې چې کله د کوکنارو کښت له منځه وړل کېږي، نو پخوانۍ او اوسنۍ پالیسۍ د بزګرانو د دواړو کټګوریو ترمنځ هېڅ توپیر نه رامنځته کوي. لکه څنګه چې زموږ د څېړنې پر مهال دا خبره رابرسېره شوه چې د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو پر وړاندې د بزګرانو د دواړو کټګوریو له خوا عکس العملونه او ځوابونه ډېر سره متفاوت وو. د هغو بزګرانو، چې کوکنار د خپلو لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره کري، ځوابونه مذهبي او اخلاقي وو، په داسې حال کې چې دویمه کټګوري بزګران د کوکنارو له کښت څخه د دفاع په خاطر تاوتریخوالي ته مراجعه کوي. د څېړنې پر مهال کارپوهان هم په دې باور وو چې په قوي احتمال سره د بزګرانو لومړۍ کټګوري به بدیل معیشت او د کوکنارو د له منځه وړلو اقداماتو ته مثبت ځواب ووایي. خو د دې برعکس، د دې احتمال کم دى چې دویمه کټګوري به قانع شي چې له خپلو کرنو لاس په سر شي، ځکه چې د دوى سترې ګټې له خطر سره مخامخ کېږي.

---

[14]د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت له یوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[15]تېر مأخذ

[16]حرام" یوه عربي اصطلاح ده چې هر هغه شی چې د اسلامي شریعت له مخې ناروا وي، تشریح کوي. هره کړنه یا عمل چې د الله تعالى قوانین نقض کوي، یوه ګناه ده. برعکس، "حلال" هغه شي ته وايي چې اجازه ورکړل شوي وي یا په اسلام کې روا وي. دا هر هغه شی تشریح کوي چې د استعمال اجازه یې شوې وي یا په کې ښکېلېدل جایز وي.
Halalgoogling Blog, http://blog.halalgoogling.com/what-is-haram-and-halal/ وګروئ:
دې مأخذ ته د ۲۰۱۶ کال په جون میاشت کې لاسرسی شوی و.

[17]د ټولنې له یوه مشر او بزګر سره مرکه، هلمند، ۲۰۱۶

[18]تېر مأخذ

[19]د ټولنې له یوه مشر او بزګر سره مرکه، هلمند، ۲۰۱۶

[20]تېر مأخذ

له کاري همکارانو سره بحثونه دا خبره په ګوته کوي چې جنايتکاره شبکې، باغيان او د نشه يي توکو اقتصاد يو بل په خپلو کې سره تغذيه کوي او د طالبانو له بغاوت سره ښکاره اړيکي لري. [21] څومره چې د طالبانو د نفوذ ساحه وسعت پيدا کوي، په هماغه اندازه دوی د قاچاقبرانو د فعاليتونو لپاره خوندي لارې برابروي. پر دې سربېره، طالبان د خپل نفوذ په ساحو کې د کوکنارو په کڅون په هر کښت کې خپله ونډه لري. [22] که څه هم دا خبره لا روښانه نه ده چې ايا يوازې د طالبانو او د نشه يي توکو د محلي قاچاقبرانو ترمنځ اړيکه شتون لري او که نه طالبان له نړيوالو شبکو سره د نشه يي توکو په قاچاق کې هم په مستقيم ډول ښکېل دي.
د کوکنارو د له منځه وړنې د پروسې د يوې برخې په توګه، د افغانستان د حکومت د ملي امنيت شورا له پخوا راهيسې له ولايتي چارواکو سره د نشه يي توکو په له منځه وړنه کې ښکېل ده، خو په دې برخه کې يې محدودې لاسته راوړنې لرلې دي. ولايتي چارواکي د کوچنيو بزګرانو د په نښه کولو سره لېوالتيا لري او په دې کې پاتې راغلي چې د بډايه او بانفوذه بزګرانو پر وړاندې، چې سياسي اړيکي لري او دوی ته رشوتونه هم ورکولای شي، ګامونه واخلي. [23] دې ته په پام سره چې بډايه او با نفوذه بزګران د دوی د کښت پر وړاندې د اقدماتو مخه نيولی شي، کم نفوذه او واړه بزګران هم په خپلو کې سره پيسې اچوي او د کوکنارو د له منځه وړلو کمپاينرانو ته يې د رشوت په توګه ورکوي ترڅو يې کښتونه له منځه لاړ نه شي. [24]

تر دې دمه، يوازې په درې مواردو کې د کوکنارو له کښت څخه ولايتونه پاک شوي دي او د ټول هېواد په کچه يوازې يو ځل دا ډول ادعا شوې. لومړی مورد چې کله په ۲۰۰۰ زېږديز کال کې طالبانو د کوکنارو په کښت بنديز ولګاوه، په ټول هېواد کې د کوکنارو د کښت ٪۹۷ له منځه لاړل. د دې په پايله کې ډېری هغه کورنۍ، چې خپل عايدات يې له لاسه ورکړل، پاکستان ته کډه شوې. [25]تر دې دمه، يوازې په درې مواردو کې د کوکنارو له کښت څخه ولايتونه پاک شوي دي او د ټول هېواد په کچه يوازې يو ځل دا ډول ادعا شوې. لومړی مورد چې کله په ۲۰۰۰ زېږديز کال کې طالبانو د کوکنارو په کښت بنديز ولګاوه، په ټول هېواد کې د کوکنارو د کښت ٪۹۷ له منځه لاړل. د دې په پايله کې ډېری هغه کورنۍ، چې خپل عايدات يې له لاسه ورکړل، پاکستان ته کډه شوې. [26]ځکه نو خلکو له خپل بچت نه خپلو لګښتونو ته مخه کړه او په تدريجي ډول پوروړي هم شول چې له امله يې په راتلونکي موسم کې دوی يو ځل بيا د کوکنارو کرکيلې ته مخه کړه. پر دې سربېره، خلکو د خپل خونديتوب او ملاتړ لپاره د دولت وسله والو مخالفينو ته مخه کړه، په داسې حال کې چې له دې جملې څخه يو شمېر يې د دولت د وسله والو مخالفينو له ليکو سره يو ځای شول. دريیم مورد په بلخ ولايت کې له ۲۰۰۶ څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې و، چېرې چې د کوکنارو کښت تقريباً په بشپړه توګه له منځه تللی و. [27]

په دې وروستيو کې هرات له کوکنارو څخه پاک ولايت اعلان شوی. [28] ځکه هلته د اقتصادي پرمختيايي پروګرامونو د شتون له امله د کوکنارو د کښت کچه د پام وړ راټيټه شوې ده. په هرات ولايت کې د کوکنارو د کرکيلې کمښت دا خبره ثابتوي چې دا له امکانه لرې نه ده چې مناسب بديل معيشت د کوکنارو د کښت ځای ونيسي.

د نشه يي توکو د له منځه وړنې لارې چارې هم خلکو ته د اندېښنې وړ وې. نږدې وه چې د نشه يي توکو د له منځه وړنې د پخوانيو لارو چارو [29] (تراکتور) [30] پر ځای کيمياوي مواد وکارول شي. ځايي خلکو له دې ډول لارو سره مخالفت وښود او داسې يې احساس کړه چې دا ډول اقدامات به کواکې د دوي څاروي ووژني او دوی ته به زيان ورسوي. [31] دې سيناريو کېدای شي طالبانو ته دا فرصت هم په لاس ورکړی وي چې د ځايي خلکو ملاتړ لاسته راوړي، له همدې امله د کيمياوي موادو له لارې د نشه توکو د له منځه وړلو هڅه بېخي ترسره نه شوه. هغو بزګرانو ته، چې کوکنار يې له منځه وړل شوي وو، ډېر محدود فرصتونه برابر کړل شول: لکه کم ارزښته کښتونه چې په سختۍ سره د دوی ژوند ساتلی شي. لوړ ارزښته کښتونه کرل او هجرت کول د اکثرو بزګرانو د وس خبره نه وه. د دې بزګرانو لپاره وروستی او بالقوه تر ټولو په زړه پورې انتخاب دا پاتې و چې د دولت د مخالفينو له ليکو سره يو ځای شي. په حقيقت کې د ډېرو بېوزولو بزګرانو په يو ځای کېدو سره د طالبانو ليکې پياوړې شوې. [32]

---

21 تېر مأخذ
22 عشر" بيوزلو خلکو ته د حاصلاتو لسمه برخه ورکول عشر دی چې پر مسلمانانو باندې واجب دی.
23د نشه يي توکو پر وړندې د مبارزې وزارت له يوه رئيس سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶
24د ټولنې له يوه مشر او بزګر سره مرکه، هلمند، ۲۰۱۶
25ډبليو. ای. بيرډ او ډي مانزفيلډ، ۲۰۱۴، او پي، سي ای ټي.
26د ټولنې له يوه مشر او بزګر سره مرکه، هلمند، ۲۰۱۶
27تېر مأخذ
28د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د ادارې له استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶
29د کورنيو چارو وزارت له يوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶
[30]د کرنې وزارت له يوه کارپوه سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[31]ډبليو. ای. بيرډ او ډي مانزفيلډ، ۲۰۱۴، او پي، سي ای ټي.
[32]د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت له يوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وجهي صندوق په ۲۰۰۵ کال کې د اضافي سرچینو په موخه رامنځته شوی. ټاکل شوې وه چې دغه سرچینې به د هغو هڅو د ملاتړ لپاره د حکومتي ادارو له لارې راځي چې حکومت یې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزه لپاره ترسره کوي. دغه پروګرام د ډونرانو د مرستې د حتمي کولو لپاره په پام کې نیول شوی و او بله موخه یې دا وه چې له هغو انفرادي پروژو څخه ملاتړ وشي چې د نشه یي توکو د کنټرول د ملي ستراتیژۍ له ملاتړ (National Drug Control Strategy) او همدا راز د ۲۰۰۵ کال د نشه یي توکو پر وړاندې د پلان له تطبیق (Counter Narcotics Implementation Plan) سره تړاو لري. د دې وجهي صندوق بله موخه د نشه يې توکو پر وړاندې د مبارزې د اړوندو پروژو او د هغو فعالیتونو ملاتړ و چې د نشه یي توکو د کنټرول د ملي ستراتیژۍ (NDCS) په اتو ستنو (pillars) کې په ګوته شوي دي: (۱) بدیل معیشت، (۲) تاسیسات جوړول، (۳) معلوماتي کمپاینونه، (۴) د نشه یي توکو د اړوند قوانینو تنفیذ، (۵) جنایي عدالت، (۶) د نشه یي توکو له منځه وړنه، (۷) د نشه یي توکو د تقاضا کمول او په نشه یي توکو د روږدو کسانو درملنه، (۸) سیمه ییزه همکاري. د دې وجهي صندوق بل د تمرکز ټکی دا و چې د نشه یي توکو د قاچاقبرانو پر وړاندې قانوني پروسې چټکې شي، په داسې حال کې چې داسې ثابته شوې وه چې دا به یوه ستره او سخته هڅه وي، ځکه چې په دې پروسه کې به یو لوی شمېر هغو خلکو ته رسیدګي کېده چې د نشه یي توکو په قاچاق کې ښکېل وو. پر دې سربېره، د نشه یي توکو قاچاق د نړیوالې مافیا له خوا کنټرولیږي او دغه مافیا په ټول افغانستان سربېره په پاکستان، ایران، ترکیې، اروپا، منځنۍ اسیا او روسیه کې هم فعاله ده. په افغانستان کې د دغو نړیوالو شبکو په قراردادیانو کې د طالبانو د غړو په ګډون فاسد حکومتي چارواکي هم شامل دي او دا مهال دغه مافیا د ځایي مذهبي مشرانو (چا چې پخوا دغه کاروبار غیر اسلامي باله) له ملاتړ څخه هم برخمن دي. ځکه دوی اوس له دې کاروبار څخه زکات یا عشر ترلاسه کوي.

## 3.5. د کوکنارو په کښت کې فساد

د نشه یي توکو د له منځه وړنې د پالیسیو د ناکامۍ بنسټیز لامل له دولت سره د خلکو کمزورې اړیکې او په دولتي ادارو د هغوی بې باوري ده. د اکثرو خلکو درک دا دی چې د قانون د تنفیذ مسؤلین پخپله د کوکنارو په کرکیله کې ښکېل دي او هغه څوک، چې له حکومت سره اړیکې لري، په اسانۍ سره حکومتي چارواکو ته رشوتونه ورکولای شي، له همدې امله امکان لري چې هغوی دې له همدې امله اغېزمن شي.[33] په حکومتي چارواکو کې د پراخ فسا راپورونو د حکومت مشروعیت کمزوری کړی چې له همدې امله نه شي کولای د نشه یي توکو د له منځه وړلو کوم پروګرام تطبیق کړي. د بېلګې په توګه، د فراه ولایت له یوې ولسوالۍ څخه د ځواب ورکوونکو د څرګندونو له مخې، بزګرانو داسې اسناد ښودلي چې په هغو کې حکومتي چارواکو د پیسو په بدل کې هغوی ته د کوکنارو د کرکیلې اجازه ورکړې.[34] بالاخره، له کوکنارو څخه د حاصل د اخیستلو په موسم کې له باغیانو څخه د خلکو د ملاتړ کچه لوړیږي، ځکه چې هغوی د نشه یي توکو د له منځه وړنې د حکومتي مداخلو پر وړاندې له بزګرانو څخه ساتنه کوي.

## 3.6. شخړه، سوله او نشه یي توکي

په داسې حال کې چې د نشه یي توکو غیر قانوني اقتصاد په هېواد کې فساد پراخوي (په ځانګړې توګه په امنیتي او قضایي سکتورونو کې)، ملکي ادارې کمزورې کوي او د نشه یي توکو د استعمال په زیاتوالي کې مرسته کوي، دا د ځایي خلکو د اقتصادي خوندیتوب لپاره هم یوه حیاتي سرچینه ده. طالبان او نورې وسله والې ډلې نه یوازې د سیاسي پانګو په جمع کولو کې کامیاب دي، بلکې بزګرانو او قاچاقبرانو ته د خوندیتوب برابرولو له لارې د مالیې په راټولولو کې هم بریالي دي. همدا راز طالبان د حکومتي چارواکو مخه هم نیسي او بزګرانو ته خوندیتوب برابروي او د هغوی د هغو هڅو مخه هم نیسي چې د نشه یي توکو د له منځه وړلو لپاره یې ترسره کوي. په نتیجه کې ځایي خلک په محلي او ملي کچه له حکومت څخه بېګانه کېږي او طالبانو ته د قوي ملاتړ بنسټ جوړوي.

د نشه یي توکو د اقتصاد د پیاوړتیا او پراختیا په تعقیب طالبانو په ۱۹۹۰یمه لسیزه کې افغانستان لاندې کړ. طالبانو په داسې حال کې چې په ټولنه ډېر اداري فساد، د قانون نقض او جنایت حاکم و، د خلکو ملاتړ حاصل کړ. له ۲۰۰۰- ۲۰۰۱ کال پورې د طالبانو له خوا په کوکنارو بندیز د اپینو په برابرونه او سمبالونه ژور اغېز وکړ، خو د ځایي بزګرانو لپاره یې هم خطرناکې بشري پایلې لرلې. طالبانو د کوکنارو کرکیله له دې امله بنده کړه چې غوښتل یې نړیوال دوی په رسمیت وپېژني او یا یې غوښتل چې د اپینو نرخونه لوړ شي یا مازې دا چې دا د دوی د مذهبي اعتقاداتو

[33] ډبلیو. ای. بیرډ او ډي مانزفیلډ، ۲۰۱۴، او یې، سي ای ټي.

[34] د سولې د ټراینګ او څېړنې له سازمان سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

غوښتنه وه. په داسې حال کې چې طالبان د امریکا په مشرۍ پر افغانستان تر یرغل وروسته په پاکستان کې د ځان په بیا سمبالونه بوخت وو، دغې شبکې له غیر قانوني اقتصاد څخه ګټه پورته کوله او له هغو اقتصادي کړنو څخه هم چې پاکستان ته ننوتي وو او دا هغه څه وو چې د طالبانو د بسیج او چمتو والي لپاره یې نوي فرصتونه رامنځته کول.

د سیمه ییزو جنګ سالارانو او د طالبانو د ډلو ترمنځ په سرچینو، د نشه یي توکو د قاچاق پر لارو او ملاتړو سیالي، په ځانګړې توګه په شمال کې، په مکرر ډول د وسله والو نښتو لامل شوه. د نشه یي توکو اقتصاد په محلي توګه جنایي جرمونه زیات کړل او د جنایتکارو ډلو او زورواکانو ترمنځ یې شخړې زیاتې کړې. د نړیوالو ځواکونو له وتلو سره د نشه یي توکو د سوداګرۍ لپاره ساحه نوره هم پراخه شوه. پایله دا شوه چې د هغو ځایي سیاسي- پوځي لوبغاړو ترمنځ سیالۍ زیاتې شوې چې یا یې د نشه یي توکو سوداګري د خپلو شخصي ګټو لپاره کاروله او یا یې د خپلو سیاسي مخالفینو پر وړاندې د یوې وسیلې په توګه ترې کار اخیسته.

د اپینو اقتصاد، د خپل زیات حجم له لارې، د تېرو کلونو په اوږدو کې پر افغان اقتصاد، دولت، ټولنې او سیاست باندې نفوذ وکړ او د دولت ثبات او امنیت ته یې خطرناکې پایلې ولرلې. پر دې سربېره، داسې فکر کېږي چې په سیمه ییزه او ملي کچه حکومتي چارواکي له ځایي وسله والو ډلو سره داسې هوکړې ته رسېدلي چې دوی به هغوی ته د نشه یي توکو د سوداګرۍ اجازه ورکوي چې په بدل کې به یې وسله والې ډلې د دولت پر وړاندې ننګونې نه رامنځته کوي. په داسې حال کې چې د نشه یي توکو د قاچاق شبکې د افغانستان د حکومت اضطراب/اخلالول غواړي، خو د رژیم بشپړ سقوط به د نشه یي توکو د کښت، پروسس، ټرانسپورټ د مخنیوي او ځنډ لامل شي.

کارپوهان په دې باور دي چې د کوکنارو کښت په بې ثباته سیمو کې ډېر رایج او متداول دی او فکر کوي چې نړیوالو سازمان شویو شبکو، [35] افغانستان د بې ثباتۍ له امله د خپل خوندي پټنځای په توګه انتخاب کړی دی، ځکه همدغه بې ثباتي ده چې د کوکنارو کرکیلې، پروسس او قاچاق ته یې زمینه برابره کړې ده. [36]

د مرکو پر مهال دا خبره مطرح شوه چې کله هم د کوکنارو د کښت هڅې زیاتېږي، ورسره جوخت بغاوتونه هم ډېرېږي. [37]
د بېلګې په توګه، په ننګرهار ولایت کې چې کله له ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۳ کلونو پورې د کوکنارو په کښت بندیز ولګېد، د دې ولایت په لرې پرتو ولسوالیو کې بغاوتونه او بې ثباتي زیات شول، ځکه چې بزګرانو د خپلو عایداتو سرچینې له لاسه ورکړې. دې ته ورته په هلمند کې، چې د افغانستان د ټولو اپینو ٪۶۰ تشکیلوي، هم بغاوتونه زیات شول.[38]ویل کېږي چې پر کوکنارو د بندیز او د بې ثباتۍ ترمنځ اړیکه په حقیقت کې په دې کې نغښتې ده چې د بندیز مداخلې او هڅې د دې ترمنځ توپیر نه کوي چې د معیشت لپاره د کوکنارو کرکیله او هغه چې نړیوالې شبکې ترې ګټه وړي. [39] پر دې سربېره، د کوکنارو په کرکیله د بندیز د پالیسیو په اړه داسې فکرکېږي چې ګواکې دا د اقتصاد، د ځایي ټولنو د ګټو او ټولنیزو حقونو او همدا راز د سولې پر وړاندې هڅه ده. دغه څېړنه دا خبره تصدیقوي چې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې یوازېنی بدیل د باغې ډلو له لیکو سره یو ځای کېدل دي.

### 3.7. پر نشه یې توکو د روږدو کسانو درملنه

په داسې حال کې چې نږدې ۳،۵ میلیونه خلک په افغانستان کې په نشه یي توکو روږدي دي، [40] د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې یوازې ۱۰۸ محدود ظرفیت لرونکي روغتیایي مرکزونه شتون لري او له هغو معتادینو سره، چې درملنه یې کېږي، د دې لپاره هېڅ ډول مرسته نه شته چې هسې نه بیا نشه یي توکو ته مخه کړي. پر دې سربېره، په نشه یي توکو روږي کسان له دې څخه هم کړېږي چې خلک ور ته په ټولنه کې په بده سترګه ګوري او پیغورونه ورکوي، [41] حتی د روغتونونو پرسونل هم معتادین د ټولنې او خپلو کورنیو لپاره ګواښ ګڼي. په دې خبرې پوهېدل ډېر

[35]په نړیواله مافیا کې کورنۍ او بهرنۍ مافیا دواړه شامل دي. په کورنۍ مافیا کې هغه فاسد حکومتي چارواکي، قاچاقبران، قراردادیان او د طالبانو غړي شامل دي چې اپینو ته د لېږد اجازه ورکوي یا هغه څوک چې قاچاقبرانو ته امنیت برابروي. په بهرنۍ مافیا یا عناصرو کې بهرنیان، مشتریان او سوداګر شامل دي. یو څوک کولای شي د وربښمو له لارې د نشه یي توکو د کښت، پروسس او قاچاق د نړیوالې مافیا څرک ولګوي. (د نشه یي توکو پرو ړاندې د مبارزې وزارت له یوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶)

36د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت له یوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

37د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له یوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

38د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د ادارې له استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

39د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت له یوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[40]د عامې روغتیا وزارت له یوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

[41]د روغتون له پرسونل سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

اسانه دي چې نشه يي توکو ته د معتادينو بېرته ورګرځېدل او جرمونو ته د هغوی بيا مخه کول له کومه ځايه سرچينه اخلي. ځينې کتونکي سپاربښتنه کوي چې له هغه ماډل څخه، چې په سينګاپور کې خپل شوی و، بايد کار واخيستل شي. هلته لومړی ځل د معتادينو په درملنه کې حکومت پانګونه کوي، په داسې حال کې چې دويم ځل د معتادينو په درملنه کې د هغوی کورنۍ پانګونه کوي. خو په سينګارپور کې د هغه چا لپاره چې د دريیم ځل لپاره نشه يي توکو ته مخه کوي، د مرګ سزا ده. [42]

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د راپور له مخې، په افغانستان کې له معتادينو سره په سيستماتيک ډول توپيري چلند کېږي او دا مهال د هغوی اساسي حقونه تر پښنو لاندې کېږي. [43] د معتادينو د درملنې په روغتيايي مرکزونو کې فساد هم يو معمول کار ګرځېدلی او په ډاکټرانو باندې تور دی چې معتادينو ته نشه يي توکي برابروي او پر هغوی يې پلوري. که څه هم د عامې روغتيا وزارت چارواکي په خپلو مرکو کې دغه تورونه ردوي، خو د دې پر ځای د خصوصي روغتونونو پر مسؤلينو دا ډول تورونه پورې کوي.[44]

[42] د يوه محلي روغتون له يوه رئيس سره مرکه، جون، ۲۰۱۶
[43] د AIHRC له يوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶
[44] د عامې روغتيا وزارت له يوه استازي سره مرکه، کابل، ۲۰۱۶

## 4. پایلې او سپارښتنې

په افغانستان کې په دې پیمانه د نشه توکو غیر قانوني اقتصاد بې ساری دي او له ۱۹۸۰یمې لسیزې راپدېخوا د هېواد پېچلي ټولنیز- اقتصادي او سیاسي پروسو کې یې ژورې ریښې ځغلولې دي. د شخړو او جګړو لسیزو نوې اقتصادي نمونې او ماډلونه رامنځته کړي دي. د دې ترڅنګ د دې لسیزو په پایله کې د نشه یي توکو د تولید او قاچاق له امله زورواکان، نخبه ګان او ملیشه یي مشران رامنځته او بډایه شوي دي. کمزورې ادارې، د قوانینو د تنفیذ نشتوالی، مزمنه ناامني، کمزورې زېربنا او کلیوالي بېوزلي د نشه یي توکو په غیر قانوني سوداګرۍ کې د افغانستان نسبي ګټې پیاوړې کړې.

د کوکنارو کرکیله د اقتصادي امنیت او– د پیغور په ډول- د افغانیو د ثبات یوه حیاتي سرچینه ده. له ژور فکر پرته د قراینو په اساس د بدیل معیشت پروګرامونو د نشتوالي په صورت کې، د حکومتي چارواکو معکوسو پالیسیو او د دوی په منځ کې پراخ فساد د حکومت مشروعیت کمزوری کړ او د طالبانو مزید بسیج ته یې لار پرانیسته. تر دې مهاله د بدیل معیشت وړاندې شوي اکثره انتخابونه د ټیټ عاید له امله ناکام شوي دي، د کوکنارو د کښت په پرتله لږ ظرفیت رامنځته کول، له حاصلاتو سره برابر او مساوي بدیل معیشت، د ښار او کلي ترمنځ د اړیکو د ملاتړ لپاره ناکافي زېربنا او د بزګرانو د ظرفیتونو او مهارتونو د ودې لپاره د پاکوني نشتوالی هغه څه دي چې د کوکنارو په کرکیله کې د پام وړ رول لري. د کوکنارو د کرکیلې پر وړاندې مبارزه د جنایتکارو شبکو، باغیانو او د نشه یي توکو د اقتصاد ترمنځ د قوي اړیکې له امله هم ناکامه شوه. د دې معنی دا ده چې په نشه یي توکو کې ټولو ښکېلو غاړو د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره له هرې وسیلې او وسلې څخه استفاده کړې.

## سپارښتنې

لاندې سپارښتنې پالیسي جوړوونکو او د دوی ملي او نړیوالو هکارانو متوجه دي ترڅو ترې د نشه یي توکو د سوداګرۍ، شخړو او نازک وضعیت ترمنځ اړیکو ته د رسیدګۍ لپاره د مناسب اقدام په نیولې کې استفاده وکړي.

- د سیاسي اقتصاد په ګډون د شخړې او سولې په اړه شننې وکړئ ترڅو هغه محلي او سیمه ییز محرکات وپېژنئ چې د نشه یي توکو د قاچاق او د جرمونو د پیاوړتیا سبب کېږي. د پروګرامونو په وړاندې کولو کې د شخړو حساسیت (conflict-sensitivity) عملي کړئ تر د دې په اړه ډاډ حاصل شي چې حتی د غوره نیت هڅې هم ډېرو اسیب پذیرو خلکو ته په زیان نه تمامیږي.
- د نشه یي توکو د قاچاق اړوند مسایلو په اړه د پالیسي جوړولو د اساساتو په توګه لا زیات محلي څېړنیز ظرفیت وهڅوئ. دا د دې لپاره چې د تحلیل او عمل تر منځ لا زیاته اړیکه اطمیناني شي. ترڅو هغه مداخلې چې د نشه یي توکو او ناامنۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره پخپله زیانمنې نه شي او په دې توګه په غیر ارادي ډول د شخړو د منفي محرکاتو د پیاوړتیا لامل ونه ګرځي.
- د ملي او سیمه ییزو چارواکو، نړیوالو ډونرانو او تطبیق کوونکو همکارانو په منځ کې د هغو ننګونو په اړه، چې د نشه یي توکو قاچاق یې په کولمبیا او له دې په ور هاخوا سیمو کې د سولې د هوکړو د تطبیق پر وړاندې رامنځته کوي، پرله پسې ډیالوګ وهڅوئ ترڅو د لنډمهاله ثبات له کمزوري کولو پرته خطرونه په ګوته او مشخص شي.
- په سیاسي کمپاینونو او انتخاباتي تمویل کې شفافیت پیاوړی کړئ او اطمینان حاصل کړئ چې د قاچاقو عایدات د سیاسي ملاتړ په جوړولو نه لګیږي او ازاد او عادلانه انتخابات نه کمزوري کوي.
- د امنیتي ځواکونو (محلي پولیس، سرحدي پولیس، ګمرکات) د استخدام په مدیریت کې شفافیت، قانوني چوکاټونه او حسابدهي پیاوړي کړئ او په محلي او سرحدي پولیسو او همدا راز د ګمرکاتو په کارکوونکو کې د فساد او جنایي فعالیتونو په اړه نه زغم پیاوړی او ترویج کړئ.
- په امنیت، حکومتدارۍ، زېربنا او نورو مکافاتو او انګیزو کې سمون راولئ ترڅو د پانګونې د جلب پر مهال د بدیل معیشت د استخدام فرصتونه لوړ شي.
- حسابدهي زیاته کړئ او د قانون د تنفیذ په اکتشافي ظرفیتونو او د سرتاسري عدالت په وړاندې کولو کې د سمون له لارې د سترو قاچاقبرانو لپاره کلتوري مصئونیت راکم کړئ.
- په تاوتریخوالي کې د زیاتوالي د مخنیوي لپاره د نشه یي توکو د قاچاقبرانو پر وړاندې له پوځي چلند څخه ډډه وکړئ. دا ډول چلند په ځانګړې توګه د کوچنیو دلالانو او قاچاقبرانو په اړه بیخي درست او سم دی.
- د قانون د تنفیذ له نړیوالو ایجنسیو سره کار وکړئ ترڅو په څلورو هېوادونو کې د قاچاقبرو شبکو په اړه یو څرګند تصویر رامنځته کړئ او په نړیوال لاسرسي د پوهېدلو لپاره د سرحدونو په اوږدو او شبکو کې اړیکي ترسیم کړئ.

- د نشه یي توکو قاچاق د پراختیا او بشري حقونو د یوه داسې مشکل په توګه وپېژنئ چې یو مختلف غبرګون غواړي. د هغه چا لپاره، چې ډېر اسیب پذیر دي، دغه غبرګون باید د مخنیوي او کمښت په توګه وي، په داسې حال کې چې د نورو لپاره باید دغه غبرګون د قانون د تنفیذ او د جزایي اقداماتو په توګه وي.
- په ډېرو مواردو کې د نشه یي توکو قاچاق له نورو غیر قانوني اقتصادونو تغذیه کېږي او له هغو سره ګډ ژوند کوي چې داسې اړیکې ژور درک او همدا راز په بېلابېلو هڅو کې مؤثریت موندلو ته اړتیا لري چې هر یوه ته رسیدګي وشي.
- د کوکنارو د مخنیوي او د دې لپاره چې خلک ترې زړه توري شي، څو اړخیزې طریقې عملي کړئ او همدا راز د بدیل معیشت بېلابېلو ډولونو ته لاسرسی او د استخدام فرصتونه، د بدیلو کښتونو لپاره د تخمونو برابرونه، د قانون د تنفیذ لپاره اقدامات، د عامه پوهاوي لپاره کمپاینونه او د مارکیټ ارزونه.
- د ځانګړو اړتیاوو او قراینو په اساس له محلي ټولنو سره په سلا مشوره بېلابېلې طریقې او کړنلارې ډیزاین کړئ.
- له عوض شویو حاصلاتو سره بدیل معیشت مه مساوي کوئ. د شته انتخابونو په اړه معلوماتو ته د بزګرانو لاسرسی زیات کړئ او د بزګرانو ظرفیت لوړ کړئ چې د تصمیم نیولو په پروسو کې برخه واخلي.
- د ځمکې د مدیریت لپاره یو داسې بنسټیز چوکاټ جوړ کړئ چې په افغانستان کې د ځمکې د تصرف پېچلي او ټوټه ټوټه شوي ماهیت ته ځواب ووایي. دا چوکاټ باید: د رسمي او غیر رسمي مارکیټونو موجودیت تصدیق او بشپړ کړي او همدا راز عرفي قانوني چوکاټونه؛ د رسمي او غیر رسمي ځمکو د تصرف د سیستمونو ترمنځ د اړیکو په اړه څرګندوالی او وضاحت برابر کړي؛ د کرنیزو میتودونو او طریقو د سمون لپاره معلومات او ملاتړ برابر کړي؛ او د شخړو د قضاوت په میکانیزمونو کې سمون راولي.
- د نشه توکو پر وړاندې د مبارزې ډیزاین ته د بشري حقونو پر بنسټ او همدا راز د شخړو- د حساسیت په اساس طریقې عملي کړئ چې (زیان ونه رسوي)
- په هېواد کې د اوږدمهالو شخړو او بې ثباتۍ په اړه د کوکنارو د کرکیلې د خطرونو په هکله د خلکو د عامه پوهاوي په لوړولو کې ځایي رسنۍ رابښکېلې کړئ او همدا راز د پرمختیایي او بشري پروګرامونو د وړاندې کولو په اړه.
- د اپینو د تولید د قانوني کولو او د نړۍ په کچه د درملو فابریکو ته د هغو د رسولو د اړیکو په اړه فکر او غور وکړئ.
- د کوکنارو د کښت او قاچاق د کنټرولولو لپاره په ملي او نړیواله کچه همغږي زیاته کړئ او له افغانستانه بهر د نشه یي توکو د تولید د تقاضا د محدودولو په اړه خبرې اترې او مذاکرات پیل کړئ.